شماره: ...................
تاریخ ۲۴/۰۳/۱۳۹۹

# د پالیسۍ او ستراتیژۍ ادارې د ایجاد په اړه

## د افغانستان د اسلامي جمهوریت د رئیس

# فرمان

د اساسي قانون د ۱۴۲مې مادې د احکامو پر بنسټ، د هېواد د اقتصادي، سوداګریزو، پرمختیایي او خدماتو د وړاندې کولو په برخه کې د پالیسي او ستراتیژۍ جوړونې او بیاکتنې او د پالیسیو پربنسټ د دولتي ادارو د کړنو د ارزونې په موخه لاندې مراتب منظوروم:

**د ادارې ایجاد**

**لومړۍ ماده:**

(۱) د هېواد د اقتصادي، سوداګریزو، پرمختیایي او خدماتو د وړاندې کولو په برخه کې د پالیسۍ او ستراتیژي جوړونې او بیاکتنې او د پالیسیو او ستراتیژیو پربنسټ د دولتي ادارو د کړنو د ارزونې په موخه د چارو ادارې لوی ریاست په تشکیلاتي جوړښت کې د خارج رتبې بست په زیاتونې سره د "د پالیسۍ او ستراتیژۍ ادارې" تر عنوان لاندې د جانبي واحد ایجاد منظور دی.

(۲) د دې مادې په لومړۍ فقره کې یاده شـــوې اداره پخپلو چارو کې خپلواکه ده او د خپلو اجراآتو راپور د جمهوري ریاست عالي مقام ته وړاندې کوي.

(۳) شـاغلی حارث منان په خارج رتبه بسـت کې د دغې مادې په لومړۍ فقره کې د یادې شـوې "د پالیسۍ او ستراتیژۍ ادارې" د لوی رئیس په توګه تعیین دی.

**د تشکیلاتي جوړښت ترتیب او طی مراحل**

**دویمه ماده:**

د لومړۍ مادې په لومړۍ فقره کې یاده شوې اداره دې خپل تشکیلاتي جوړښت د یوې اوونۍ په ترڅ کې نهایي او د پاتې پړاوونو د بشپړولو په موخه د ولسمشرۍ عالي مقام ته د منظورۍ لپاره وړاندې کړي.

## د دولتي ادارو مکلفیتونه

### څلورمه ماده:

دولتي اداري او د جمهوري ریاست د چارو اداري لوی ریاست ته دنده سپارل کېږي چې د دغه فرمان د پلي کیدو په موخه لاندې اقدامات ترسره کړي:

- د پالیسۍ او ستراتیژۍ اداري اړتیا وړ بودجه تأمین او د دغه فرمان په انفاذ سره د یادې ادارې د بودجې د اجراء په برخه کې د جمهوري ریا ست د چارو اداري لوی ریا ست له بودجې اقدامات وکړي؛
- د جمهوري ریاست د چارو اداري لوی ریاست دنده لري چې " د پالیسۍ او ستراتیژۍ اداري" اړتیا وړ کاري شعبې، امکانات، وسائط او خدمات تسهیل کړي؛
- ټول وزارتونه او مستقلې اداري مکلفیت لري چې د پالیسۍ او ستراتیژۍ اداري د موخو د ترسره کولو په پار له یادې اداري سره لازمی مرستې او همکارئ وکړي.

## دندې او واکونه

### پنځمه ماده:

د پالیسۍ او ستراتیژۍ اداره د اساسي قانون او اړوندو تقنیني سندونو په پام کې نیولو سره او د جمهوري ریاست د عالي مقام د هدایتونو پربنسټ، دنده لري چې د ټولو دولتي ادارو او شرکتونو په پالیسي- او ستراتیژي جوړونه کې لازم تسهیلات وړاندې او د دولتي ادارو د پالیسیو او ستراتیژي بیاکتنه او تدقیق ترسره او د پالیسیو د پلي کولو پربنسټ د دولتي ادارو کړنو ارزونه وکړي.

## د عالي شوراګانو غړیتوب

### شپږمه ماده:

- د پالیسۍ او ستراتیژۍ اداري لوی رئیس د اقتصادي او اوبو، ځمکو او ښاري پراختیا عالي شورګانو غړیتوب لري.
- د پالیسۍ او ستراتیژۍ اداري لوی رئیس د ولسمشر عالی مقام له هدایت سره سم د کابینې په خاصو غونډو کې چې د یادې اداري اړوند موضوع په اجندا کې شامله وي ګډون کوي.

انفاذ

**اوومه ماده:**

دغه فرمان له توشیح سره سم نافذ دی او د دې فرمان په انفاذ سره، د ولسمشرۍ عالي مقام د (۱۳۹۹/۱/٦) نیټې ۱۲مه گڼه حکم ملغی دی.

محمد اشرف غني

**د افغانستان د اسلامي جمهوریت رئیس**